څوک چې زما څخه نورو ته یو حدیث بیانوي او داسې معلومېږي چې هغه دروغ دی، نو هغه انسان له درواغجنو څخه یو دی

له سمرة بن جندب او مغيرة بن شعبة رضي الله عنهما څخه روایت دی، دوی دواړه وایي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: «څوک چې زما څخه نورو ته یو حدیث بیانوي او داسې معلومېږي چې هغه دروغ دی، نو هغه انسان له درواغجنو څخه یو دی».

[صحيح دی] [مسلم په خپلې مقدمې کې روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې څوک له هغه څخه یو حدیث نقلوي او هغه پدې پوهیږي، یا ګمان کوي او یا یې غالب ګمان دا وي چې دا په رسول الله صلى الله عليه وسلم دروغ دي؛ نو څوک یې چې روایتوي د هغه چا سره په درواغو کې شریک دی چې لومړی یې پدې حدیث پیل کړی دی.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/6982